Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized



# افغانستان کې له ودې او ثبات څخه ملاتړ

د هیواد لپاره د مشارکت چوکاټ له ۲۰۱۷مه تر ۲۰۲۰ خلاصه

د نړیوال بانک ګروپ

د نړیول  بانک ګروپ
د افغانستان دفتر
۱۹ شمیر کور، ۱۵ واټ
وزیر محمد اکبر خان
کابل- افغانستان
تیلیفون: ۷۰۱۱۳۳۳۲۸ (۰) +۹۳
ویب پاڼه: www.worldbank.org.af

انځورونه © د رومي مشورتي شرکت/ نړیوال بانک
© نړیوال بانک، ۲۰۱۶

# افغانستان کې
# له ودې او
# ثبات څخه ملاتړ

د هیواد لپاره د مشارکت چوکات له ۲۰۱۷ مه تر ۲۰۲۰ خلاصه



# لړلیک


پیژندنه ۱

ثبات او ودې ته اړ هیواد ۴

په افغانستان کې د نړیوال بانک گروپ ۱۰

ستونزمن چاپیریال ۱۷

د پیاوړي مشارکت په لور ۲۰



## سریزه

د هیواد لپاره د مشارکت چوکاټ د افغانستان او نړیوال بانک لپاره له ځانګړي ارزښت څخه برخمن دئ. د مشارکت دغه چوکاټ د دغه بنسټ لومړنۍ مینځ مهاله ستراتیژۍ وروسته له یو شمیر موقت ستراتیژۍ ګانو بلل کیږي، چې د افغانستان لپاره د نړیوال بانک اوږد مهاله ملاتړ او ژمنتیا باندې ټینګار کوي. همدا راز دغه ستراتیژی د نړیوال بانک ګروپ ګډه تګلاره بلل کیږي چې د یو واحد چوکاټ لاندې د نړیوالې پرمختیایي اداري، د نړیوالې مالي اداري او د څو اړخیزو پانګه اچونې د ضمانت اداری ملاتړ په افغانستان کې همغږي کوي.

د هیواد لپاره د مشارکت چوکاټ په افغانستان کې د نړیوال بانک د ۱۵ کلونو کړنو د پایلو او ترلاسه شویو تجربو په رڼا کې تدوین شوئ. د دغه چوکاټ موخه د افغانستان د دولت د لومړیتوب له مخې برنامو څخه ملاتړ، کومې چې د ملي سولې او پراختیا په چوکاټ کې پرې ټینګار شوئ، بلل کیږي. دغه چوکاټ مونږ سره مرسته کوي ترڅو په لنډ مهالو بیړنیو اړتیاو باندې کار وشي، چې کیدلئ شي په هغو کې په کورني بی ځایه شویو، د اوږد مهاله ودې لپاره په فرصتونو پانګه اچونه لکه د دولت په مالي چارو، د بریښنا د تولید لپاره د اوبو بندونه، او استخراجي صنایع په ډاګه شي.

غواړم ټینګار وکړم چې د هیواد لپاره د مشارکت دغه چوکات دا وړتیا لري ترڅو د افغانستان په کړکیچن حالت کې ګواښونه او ستونزې تشخیص کړي او له همدې امله یو ربنتینۍ پروګرام وړاندیز کوي چې د هغه پر بنسټ د امنیتی او سیاسي حالاتو د بدلون په صورت د چارو د انسجام او تطبیق وړتیا ولري.

د افغانستان پراختیایي اړتیاوې هراړخیزې دي او ټاکل شوې چې نړیوال بانک په دغو برخو کې یو شمیر پراخې کرنې ترسره کړي، چې اغیزمنتیا او نسبي غوره والئ ولرو. مونږ پوهیږو چې ۳۹ سلنه افغانان د فقر او بې وځلئ ژوند لري او د هیواد لپاره مهمه اړتیا دا دی چې هر کال د کار ۴۰۰۰۰۰ تنو واجدینو ته د کار په بازار کې د بوختیا آسانتیاوې رامینځته کړی. دغه وضعیت هیواد ته بیرته راستون شویو کډوالو (۵،۸ میلیون کډوال) او کورني بې ځایه شویو (۱،۲ میلیون) په شمیر کې د زیاتوالي له امله مخ په خرابیدلو دی.

د کرهنې، کانونو، استخراجي صنایعو او د بشري ځواک په برخو کې پانګه اچونه، او همدا رنګه د کډوالئ بریالئ مدیریت د ودې د هڅونې او د فقر د لږوالي لپاره له ځانګړي پتانسیل څخه برخمن دي. داسې تمه نشته چې د ادارو کمزورتیا او د جګړه او تاوتریخوالي لړۍ په نږدې راتلونکي کې پای ته ورسیږي، په ورته مهال ستره ستونزه د خصوصي پانګه اچونو انسجام دی، چې دغو ستونزو ته په پام سره د ودې لامل بلل کیږي.

د هیواد لپاره د مشارکت چوکاټ د دغې اجندا د تطبیق لپاره د دولت د وړتیاو، د خصوصي سکتور د پانګه اچونو د انسجام او د پراخ ګډون لرونکي ټولنې له پیاوړتیا څخه ملاتړ کوي. نړیوال بانک د نړیوالي مالي اداري او د څو اړخیزه پانګه اچونو د ضمانت له اداري سره په ګډه همغږۍ په پام کې لري ترڅو د کورنۍ او باندنیو پانګه اچونو د هڅونې لپاره ، د ګواښ او ضمانت په برخو کې یو لړ آسانتیاوې رمینځته کړي.

له فرصت څخه په ګټه پورته کوني غواړم چې له خپلو همکارانو څخه د افغانستان په دولت کې، او همدارنګه د نړیوالې پرمختیایي اداري، نړیوالي مالي اداري او د څو اړخیزو پانګه اچونو د ضمانت اداره کې د هغوی د هراړخیزو هڅو او کوښښونو څخه د دغې ستراتیژۍ په جوړښت او تدوین کې، د زړه له کومې مننه څرګنده کړم. مونږ هیله لرو چې له دغه چوکاټ څخه د یو بنسټ په توګه د دغه هیواد لپاره د اوږد مهاله ملاتړ په موخه په راتلونکو کلونو کې ګټه پورته کړو.

**شوبهم چوهدری**
**په افغانستان کې د نړیوال بانک رییس**

له ۲۰۰۱ کال راپدېخوا په پراختيايي برخه کې افغانستان يو لړ پرمختګونه درلودلي دي، چې روښانه بېلګې يې لومړنيو اړينو خدماتو لکه اوبو ، فاضلاب، د برېښنا انرژۍ او په روغتيا او ښوونې او روزنې برخو کې د بشري څواک روزنه بلل کېږي. په ورته مهال، يو شمير لاسته راوړنې د امنيت د نشتون ، د اقتصادي ودې رکود او د فقر او بې وځلۍ د لوړوالي له امله د ذوال په حالت کې دي.

د ۲۰۰۳ او ۲۰۱۲ کلونو په ترڅ کې افغانستان د يو چټک اقتصادي خوزښت او ودې شاهد وو، خو اوس مهال اقتصادي وده پخه شوې ده. د افغانستان دولت په داسې حال کې د اصلاحاتو لپاره ژمن دی، چې په ټوليز ډول دغه هيواد له يو نا څرګند سياسي او اقتصادي برخليک سره مخامخ دی.

د افغانستان سياسي چاپيريال اوس هم ترينګلی دې او دغه هيواد د جګړه ځپلي هيواد په توګه بلل کېږي. د کلونو جګړو د دوام له امله د دغه هيواد اداري بنسټونه وران ، پوهان او متخصصين يې تيښتې ته اړ شول او طالبان بيا ځواکمن شوي دي. د کورنې جګړو له امله څه باندې ۱ ميليون وګړي بې ځايه او کډوالۍ ته اړ شوي.

په ورته مهال، د تګ او راتګ لپاره ستونزمنې لارې، د اقليمي بدلونونو له امله زيان او په هر کال کې د نفوس ۳سلنه وده، د پراختيا په وړاندې سترخنډونه رامينځته کړي دي. هغه اقتصادي وده چې د فقر په لړوالي اغيز ولري، اړتيا ده چې اندازه يې لوړه او په ورته مهال هر اړخيزه وي، ترڅو په اغيزناکه توګه د مخ په ودې نفوس او د ځوانانو تورم لپاره اړتياوې جبرال کړي. په افغانستان کې نږدې ۵۰ سلنه ځوانان ۱۵ کلن او يا ټيټ سن لري، چې د نړۍ د هيوادونو په کچه د ځوان نسل لوړه شميره په ډاګه کوي. خوارځواکۍ په تيره بيا ماشومانو، سوکالۍ او د ښوونې او روزنې لاسته راوړنو ته يو ستر ګواښ بلل کېږي.



# پیژندنه



د نړیوال بانک ګروپ ستراتیژۍ د افغانستان د ملي سولې او پراختیا تګلارې له لیدلورې (۲۰۲۱ - ۲۰۱۶) سره په همغږۍ جوړه شوې، چې په دغه تګلاره کې په پراختیايي چارو کې د دولت په زیات مالکیت، د دولت او نړیوالو تمویل کوونکو په مساوي مشارکت او بودیجه کې د غیر اختیاري مرستو په زیاتوالي ټینګار کوي.

د دغې ستراتیژۍ په جوړښت کې د نړیوال بانک د تېرو کلونو له تجربو، د پخوانۍ لنډ مهالې ستراتیژۍ له یادښتونو او د بیلابیلو سکتورونو د متخصصینو له سپارښتنو او مشورو څخه اغېزمنه ګټه اخستل شوې.

## د ترینګلي حالت ستر لاملونه

د نړیوال بانک ګروپ له لوري د افغانستان لپاره د یو سیستماتیک تشخیصیه سند د تحلیل له مخې، په افغانستان کې درې ستر لاملونه د ترینګالتیا اصلي لاملیونه بلل کېږي:

هغه کمزوري دولتي او سیاسي اداري او بنسټونه چې یوه ځانګړې برنامه او لیدلورۍ نلري، او ډېرۍ نفوذ لرونکي چارواکي په دغو ادارو کې تر هغه چې له شته سرچینو څخه اغېزمنه ګټه پورته کړي او خلکو ته د خپلو د کړنو ځواب ورکړي، په خپل مینځ کې د اقتصادي سرچینو د ویش نانندریو باندې لګیا دي. اقتصادي سرچینو ته د دغو چارواکو زیات لاسرسۍ، د دولت تدارکاتي تړونونه، د عوایدو سرچینې، ځمکو ته لاسرسۍ، د کانونو قرار دادونه او د نامشروع اقتصادي او غیر قانوني کړنو له امله عوایدو ته لاسرسۍ د ترینګلې وضعیت په زیاتوالي کې خورا ونده لري.

د طالب جنګیالیو د قواوو بیا پیاوړي کیدنه، د بهرني ځواکونو د کمزورو کړنو او همدا راز په هیواد کې دننه د کمزورې حکومتولۍ له امله ترسره کیږي.

توکمیز/ قومي اختلافات چې د څو لسیزو جګړو له امله رامینځته شوي، خورا بد حالت ته ځان ته غوره کړی. د یو ملاتړیز سیستم په اساس د دولتي څوکیو ویش او د قومي شبکو له لیارې سرچینو ته لاسرسۍ خورا رواج موندلۍ دی.

"

هغه اقتصادي وده چې د فقر په لړوالي اغیز ولري، اړتیا ده چې اندازه یې لوړه او په ورته مهال هر اړخیزه وي، ترڅو په اغیزناکه توګه د مخ په ودې نفوس او د ځوانانو تورم لپاره اړتیاوې جبران کړي.



# د نړیوال بانک ګروپ د ستراتیژۍ کلیدي عناصر

په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ ستراتیژۍ، د هیواد لپاره د مشارکت چوکات سره په همغږي جوړه شوې، چې په ځانګړې توګه په دریو سترو برخو تمرکز لري. په دغې ستراتیژۍ کې د هرې برخې لاندې د فعالیتونو ټولګه، د افغانستان لپاره د سیستماتیک تشخیصیه سند له مخې د ترینګلتیا سره د مقابلې په موخه پلان شوې، چې موخه یې د اوږد مهاله اقتصادي ودې لپاره د آسانتیاو برابرول بلل کیږي. د هرې برخې لاندې د وړاندیز شویو فعالیتونو لیست د بلې برخې سره هم تړاو لري، او له یو بل سره په تعامل د بلې برخې د ملاتړ لامل ګرځي.

**د فعالیتونو او همکارۍ دریو سترو برخو تمرکز**

د پیاوړو او ځواب ورکوونکو ادارو جوړونه

له هراړخیزې ودې څخه ملاتړ

د ټولنیز ګډون ټینګښت





## سیاسي او ټولنیز وضعیت

د جګړې دوام په دغه هیواد کې د ټولنیز انسجام لپاره یو خنډ بلل کیږی، او دا حالت قومي اختلافاتو ته لار هواره کړې او د دولتي ادارو د کمزورتیا او د قانون د حاکمیت په وړاندې ستر خنډ بلل کیږی.

د ۲۰۱۴ کال د ټاکنیزو ناندریو څخه وروسته، د ملي یووالي حکومت د ټاکنو د دوه مطرح نوماندانو د سیاسي تفاهم په رڼا کې وروسته له یو لړ زیاتو بحثونو رامینځته شو.له دې سربیره، د هیواد راتلونکې لرلید ناڅرګند دی او د امنیتي تاوتریخوالي زیاتوالی د زیات شمیر زیانونو لامل ګرځیدلی. د امنیت د نشتون له امله، د هیواد یو شمیر زیاتو سیمو ته لاسرسی ناشونی دی او په ورته مهال سیاسي وضعیت هم ترینګلی بلل کیږی.

فساد په دغه هیواد کې پراخ دی، او ستره برخه یې د مخدره توکو د قاچاق او په تیره لسیزه کې د بودجې څخه بهر د خورا زیاتي اندازې بهرنیو مرستو اختصاص ورکولو پورې تړاو لري، چې په خپل وار سره دغه لاملونه د غیر مسوولو وسلوالو ډلو تیلو د رامینځته کیدني او د خلکو د ناخوښی لامل ګرځیدلی. په افغانستان کې د فساد د لمني خوریدل په تیرو کلونو کې خورا هراړخیز او زیات بلل کیږي.

جګړه او ترینګلی سیاسي حالت

مخ په ودې نفوس او جغرافیایي لاملونه

د نړیوالو مرستو لړوالی

**د فقر د لړوالي په وړاندې خنډونه**
په افغانستان کې د فقر په وړاندې درې ستر خنډونه



# ۲

# ثبات او ودې ته اړ هيواد



"

د کرهنې سکتور د هیواد ۵۶ سلنې نفوس ته د بوختیا زمینه برابره کړې او له همدې امله د دغه سکتور وده د فقر د پراخې لمنې په را ټولولو کې مهمه ونده لري.

## سیاسي او ټولنیز وضعیت

تیره بیا د خوراکي توکو پروسس د تولیدي سکتور ۹۶ سلنه رانغاړي. د کرهنې سکتور د هیواد ۵۶ سلنې نفوس ته د بوختیا زمینه برابره کړې او له همدې امله د دغه سکتور وده د فقر د پراخې لمنې په را ټولولو کې مهمه ونده لري.

د ودې یو شمیر نور محرک سکتورونه کیدلی شي چې استخراجي صنایع، د مرکزي او سویلي آسیا هیوادونو په مینځ کې د افغانستان استراتیژیک موقیعت، سیمه ایزوه سوداګری ، د کالیو او انرژی تبادله وبلل شي.

په ورته مهال، اوس دغه هیواد له مخ په ودې مالي محدود والي سره مخامخ دی، ځکه چې د مرسته کوونکو مرستې د کمښت په درشل کې دي او د عایداتي سرچینو انسجام له محدود والي سره مخامخ دی. دا په داسې حال دی چې د امنیتي برخې د لګښتونو اندازه په دوام داره بڼه د زیاتوالي په حال کې ده، چې په پایله کې اقتصادي او ټولنیزو برخو ته د مالي سرچینو په اختصاص ورکولو کې محدود والی رامینځته کوي. د کورني عوایدو سقف په ۲۰۱۴ کال کې د ناخالص کورني تولید ۸،۴ سلنې ته لړوالی وموند، په داسې حال کې چې دغه شمیر په ۲۰۱۱ کال کې ۱۱،۶سلنه وو. دغه حالت پر اقتصادي رکود او په اجراآتو او انطباق منلو کې کمزورتیا باندې دلالت کوي. د دغو لوړو او ژورو باوجود، په ۲۰۱۵ کال کې یو مثبت خوځښت رامینځته شو، څرنګه چې د کورنيعوایدو سقف د ناخالص کورني تولید۱۰،۳ سلنې ته لوړ شو. دغه هدف ته لاسرسی، د مالیې وزارت د هڅو نتیجه وه، چې د عوایدو پیاوړي انسجام او را ټولولو، د یو شمیر ځانګړو مالي تدبیرونو وضع کول، سیاسي پرمختګ او د فساد په وړاندې د یو شمیر ګامونو اوچتول په بر کې نیسي.



## د فقر او بې وځلي درجې

د یوې لسیزې چټکې ودې باوجود، د هیواد یو پراخ شمیر نفوس چې اندازه یی۳۶سلنه اټکل کیږي، له خورا زیات فقر او بې وځلی سره لاس او ګریوان دي. وروسته له دوه پرله پسې کلونو لړې ودې څخه، په ۲۰۱۴ کال کې د فقر درجه د نفوس ۴۰ سلنې ته لوړوالی وموند.په ۲۰۱۲ کال کې په حدود د ۹ میلیونو افغانانو چې ۶۰۰ زره یی د ۲۰۰۸ کال د ورته شمیر څخه زیاتوالی درلود، د ژوندانه لپاره د لومړیو اړتیاو د برابرولو توان یی له لاسه ورکړی وو. هغه شمیر میرمنې چې د کورنی لپاره د اړتیاو د برابرولو مسوولیت په غاړه لري، د دغه حالت څخه خورا زیانمنې او ټکنی دي.

د ښارونو په پرتله په کلیوالي سیمو کې د فقر درجه لوړه ازول شوې، خو په دې برسیره د فقر تشه په لویو ښارونو او کلیوالي سیمو کې ثابته پاتې شوې ده. د هیواد په کلیوالي سیمو کې د

## وروستي اقتصادي پرمختګونه

د ۲۰۰۳ او ۲۰۱۲ کلونو په اوږدو کې د افغانستان اقتصادي وده په په منځنۍ توګه هر کال کې ۹.۴ سلنه وو، په داسې حال کې چې دا وده د ۲۰۱۳ څخه تر ۲۰۱۵ کلونو په ترڅ کې په چټکۍ سره لږوالی وموند. په دغو کلونو کې د اقتصادي ودې د لاملونو له جملې څخه په ساختماني برخه کې د پانګونې د کچې زیاتوالی، د نړیوالو مرستو د زیاتوالي له امله د خدماتو په سکتور کې د فعالیتونو پراختیا او په پراویزه توګه د کرهنیزو محصولاتو زیاتوالي بلل کیږي. د ناخالص کورني تولید له مخې د هر سړي سر عاید په ۲۰۱۴ کال کې ۶۸۰ امریکایي ډالره تخمین شو، چې په دې توګه د ۲۰۰۳ کال په پرتله درې ځله لوړوالی په ډاګه کوي.

د ودې دغه شمیرې په ټولیزه توګه له ثبات څخه برخمنې نوې. له امنیتي او پراختیایي سکتورونو سره مرستې په ۲۰۱۳ کال کې د ناخالص کورني تولید ۵۹ سلنې ته لږوالی وموند، په همدغه بنه ټاکل شوې چې دغه مرستې تر ۲۰۲۰ کاله پورې ۳۹ سلنې ته لږوالی ومومي. د ناخالص کورني تولید وده په وار سره د ۲۰۱۳ کال په ترڅ کې ۳،۷ سلنه، په ۲۰۱۴ کال کې ۱،۳ سلنه او په ۲۰۱۵ کال کې ۰،۸ سلنه لږوالی وموند. تمه دا ده چې د ودې کچه په تدریجي توګه تر ۲۰۲۰ کاله پورې ۳،۸سلنې ته لوړوالی ومومي. د نفوس د ۳ سلنې ودې او وروستي اقتصادي ودې ته په پام سره ، دا ناشونې ده چې په پراخه توګه د کاري ځواک لپاره د کارموندنې آسانتیاوې رامینځته شي، ترڅو په دې توګه د فقر په لږوالي اغیز ولرى.

په افغانستان کې د خصوصي سکتور رسمي فعالیتونه پخ دي. په بازار کې د کاري ځواک ونډه له ۵۰ سلنې څخه لږه ده، او خصوصي متشبثینو ته د پورونو اندازه د ناخالص کورني تولید له مخې د ۳،۹ سلنې څخه هم لږ بلل کیږی، او دا شمیره شاته پاتې هیوادونو لپاره د ناخالص کورني تولید ۲۸ سلنه بلل کیږي. د جګړو دوام د خصوصي سکتور د مشبثینو لاسرسی پورونو ته لنډ کړی، او همدا رنګه د کمپنیو د ثبت کموالی او قرار دادونو ته نه لاسرسي، د خصوصي سکتور د فعالیتونو د لږوالی لامل ګرځیدلی .

د ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۲ کاله پورې د کرهنې سکتور د اقتصادي ودې لپاره یو اغیزمن سکتور وو، خو نوموړی سکتور په هیواد کې د اقلیمي بدلونونو تر سخت اغیز لاندې دی، او له همدې امله د ودې په پروسه کې ثابته ونده نشي اخیستلی. د اقتصاد نورې برخې هم په یوه توګه له کرهنې سره غیر مستقیمه اړیکه لري، په

۱ شکل: وده او د سکتورونو ونډه په وده کې ، ۲۰۰۶ ـ ۲۰۱۵




سرچینه: د مرکزي احصایې اداره او د نړیوال بانک کارکوونکو تخمینونه

> که چیرې ټاکل شوي وي چې دغه ټولنیز نابرابر والئ لړوالئ وومومي، نو اړینه دی چې په بې وځلو سیمو کې یو شمیر برنامې پلي سي چې تر ډیره کچه د فقر په کموالي او د زیانمن کیدنې په مخنیوي متمرکزې وي.



مانا دې، چې جګړه کله ناکله په یو شمیر جنګ ځپلو سیمو کې د اقتصادي ادغام او کارموندنې لامل ګرځې. د افغانستان په شمال ختیځ کې لیرې کلیوالي سیمې چې تر ډیره بریده په کرهنې سکتور کې بوختیا لري، په هماغه اندازه له طبیعي پیښو څخه ټکنې دي او په ورته وخت کې له نړیوالي ټولنې او دولت څخه یې د پام وړ مرستې، ندې ترلاسه کړې.

د ټکانونو له امله زیانمن کیدنه، په تیره بیا طبیعی آفتونه او پیښې په افغانستان کې خورا جدي دی. دغه حالت په تیره بیا بې وځلو کورنیو ته په زیاته کچه رامینځته کیږي، او د اقلیم بدلون دغه شان زیانونونو ته په راتلونکې کې لمن وهي. نیمایي کورنی له دغو ټکانونو سره د مخامخ کیدلو په مهال په نسبي توګه ورسره د مقابلې توان لري، چې هغه هم د خپلو جایدادونو او شتمنیو او ان دا چې دي ته اړ کیږي ترڅو خپل ماشومان له ښونځیو څخه باندې کړي، چې په دې توګه له دغو کورنیو څخه د فقر کړۍ نوره هم را چارپیریږي. په دې ترڅ کې په فقر میشتو سیمو کې یوه ځانګړې برنامه پام کی نیول شوې چې محور یې د بې وځلو سیمو په لړوالي او د طبیعي پیښو او اقلیمي بدلونونو له امله د زیانونو په کمښت باندې تمرکز لري.

### په ماشومانو کې خوارځواکئ

په افغانستان کې ۴۱ سلنه ماشومان تر پینځو کلونو لږ عمر لري. هغه ماشومان چې د ناسم خوراک له امله په خوارځواکئ اخته دي، تر ډیره بریده په ناروغیو اخته کیږي، په ښوونې او روزنې کط کمزورتیاوې لري او په دې توګه د هغو ماشومانو په پرتله چې ښه خوراک ته لاسرسئ لري، دغه شمیر ماشومان ډیر فقیر پاتې کیږي.

### نړیوالي مرستې

د افغانستان دولت د نړیوالو مرستو د کمښت له ګواښ او د پوځی لګښتونو له له زیاتوالي سره مخامخ دی، چې دا لړۍ پر ملکي لګښتونو اغیز لرلی شي، او هغه هم سم دلاسه هغه مهال چې دغه هیواد یوه پراخه اندازه اغیزمنو پراختیایي مرستو ته اړتیا لري. تمه کیږي چې په مینځ مهال کې د پوځي او پراختیایي مرستو سقف د ناخالص کورني تولید له مخې په تدریجي توګه لږوالي ومومي. په دې توګه ټاکل شوې چې په ۲۰۱۳ کال کې ناخالص کورني تولید له ۵۹ سلنې څخه په ۲۰۱۸ کال کې ۴۴ سلنې ته راکښته شي. د دغو مرستو دوام له جدي ګواښ سره مخامخ دی.

د کورني عوایدو د انسجام بهیر کمزوری دی، خو په ورته مهال په ۲۰۱۵ کال کې په دې برخه کې د پاملرنې وړ پرمختګ ترلاسه شوی. دا خورا مهمه ده چې د مرستو ډیره اندازه د دولت د بودیجې له لیارې ولږول شي، ترڅو په دې توګه له یوې خوا په همغږۍ بڼه او د لومړیتوب له مخې ولږول شي او له بلې خوا د اړتیا وړ خدماتو او توکو د تدارکاتو بهیر د افغانستان په بازارونو کې ترسره شي، او په دې توګه د اقتصادي ودې لپاره آسانتیا رامینځته شي. د نړیوالو مرستو له کمښت سره جوخت، د دغو مرستو د تطبیق په برخه کې اغیزمنتیا له خورا ارزښت څخه برخمن دی.

استوګن نفوس شمیره ۷۶ سلنه بلل کیږي ، چې په دې توګه د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو په ترڅ کې د هیواد په کچه په کیلیوالي سیمو کې د فقیر نفوس کچه ۸۱ سلنه رانغاړي. د دې برسیره، له کلیوالي سیمو څخه لویو ښارونو ته د خلکو کډوالي د دې لامل شو، چې په کلیوالي سیمو کې د میشت نفوس لپاره د فقر کچه لوړه پاتې شي. په دې توګه ویلی شو چې په افغانستان کې د خلکو د ژوند د کچې ترمینځ واټن زیات شوی دی.

د جګړې او فقر له امله د نفوس بې ځایه کیدنه د یوې مخ په ودې ستونزې په توګه بلل کیږي. اوس مهال په پاکستان او ایران کې په تخمیني توګه شاوخوا ۳،۵ میلیون افغان کډوال ژوند کوی. همدا رنګه، په دې وروستیو کې د افغان کډوالو تګ اروپایي هیوادونو ته زیاتوالۍ موندلی.

د هیواد دننه هم یو شمیر وګړي د جګړو له امله اړ کیږي چې له یو شمیر لیرې پرتو سیمو څخه لویو ښارونو ته کډوال شي، چې په دې توګه په لویو ښارونو کې د نفوس د زیاتوالي لامل ګرځي او چې ډیری یې بې وځلي او فقیر هم دي. د کورني بې ځایه شویو شمیر شاوخوا ۱ میلیون تنه تخمین شوي دي. دې ته په پام سره چې یو زیات شمیر افغان کډوال له ګاونډیو هیوادونو څخه بیرته هیواد ته ستانه کیږي او له بلې خوا، هغه شمیر بې ځایه شوي وګړي چې معیشتي سرچینې یې له لاسه ورکړې او په ښارونو کې استوګن کیږي، په پراخه اندازه دا احتمال شته چې په دغه شان حالت کې دولت او کوربه ټولنې دغه نفوس ته د اړتیا وړ سرچینو له کمښت سره مخامخ شي.

د فقر تر ټولو ستر فکتور هماغه سیمه ایزه نابرابري/ نا انډول والۍ ده، ځرنګه چې په وار سره تر ټولو زیات فقر په شمال ختیځ ، مرکزي ختیځ او د هیواد په ختیځو سیمو کې موجود دی ( دویم جدول ته مراجعه). د فقر درجه په سویل ختیځ کې ۲۷،۷ سلنه او په شمال ختیځ کې ۴۹،۷ سلنه دی. د فقر د څه رنګوالي بهیر تر ډیره بریده پرته له کوم بدلون او په ځینو برخو کې لږوالی موندلی دی. له بلې خوا، هغه شمیر سیمې چې په هغو کې د جګړې لمن او تاوتریخوالیپراخ دی، شاته پاتې سیمې نه بلل کیږي. دا په دې

**۲ شکل: سیمه ایز نا برابروالۍ، د فقر د کچې د ټاکونکي  په توګه**




سرچینه: د نړیوال بانک کارکونکو تخمین د ۲۰۰۷ - ۲۰۰۸ او ۲۰۱۱ - ۲۰۱۲ میلادی کلونو د سیمو د ستونزمنتوب د ارزونې د ملی راپور پربنسټ.





په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ مهمه ونډه په غاړه لري، څرنګه چې نوموړی بانک د افغانستان د بیا رغونې صندوق مدیریت هم په غاړه لري. دغه صندوق د هیواد په کچه د پراختیایي او عملیاتي چارو لپاره د بودیجې یو ستر تمویل کوونکې بنسټ بلل کیږي، چې د ځو تمویل کوونکو لخوا ملاتړ کیږي. په ورته مهال د نړیوال بانک نورې پروژې او برنامې په افغانستان کې د نړیوالې پراختیایي اداری لخوا تمویل کیږي. په همدې توګه نړیوال بانک له خپل یو شمیر نورو غړو لکه نړیواله مالي اداره او د ځو اړخیزو پانګه اچونو د تضمین اداري سره په ګډه، یو شمیر ملاتړیزه چارې په افغانستان کې په غاړه لري.

نړیواله پراختیایي اداري له ۲۰۰۲ کال راپدیخوا د ۳،۳۴میلیارد امریکایي ډالرو په ارزښت یو لړ پراختیایي او بیړنۍ پروژې او د بودیجې پینځه ملاتړیزه عملیاتي برنامې په افغانستان کې تمویل کړي دي. د دغه مالي ملاتړ ۲،۹میلیارد امریکایي ډالره یې بلاعوض مرسته او ۴۳۶،۴ میلیون امریکایي ډالره یې پرته له سود څخه بسپنه مرسته بلل کیږي. اوس مهال نړیوال بانک په افغانستان کې ۱۶ فعاله پروژې د ۱،۳ میلیارد امریکایي ډالرو په ارزښت اداره کوي.

د ۲۰۱۷ څخه تر ۲۰۲۰ کاله پورې د افغانستان لپاره د نړیوال بانک ګروپ ستراتیژی د هیواد لپاره د مشارکت چوکاټ سره په همغږۍ کې طرحه شوې ده، چې دغه ستراتیژی په هراړخیزه توګه د دولت له هغو موخو څخه چې تمرکز د فقر په لړوالي دی، ملاتړ کوي او مینځ پانګه یې د افغانستان د ملي سولې او پراختیا له چوکاټ سره سمون لري (۳ شکل ته مراجعه).

**۳ شکل: د دولت له لومړیتوبو څخه د نړیوال بانک ملاتړ**

**د دولت لومړیتوبونه**

- د حکومتولۍ بنه والۍ او د دولت اغیزمنتیا
- د ټولنیزه پانګې جوړښت او ملت جوړونه
- اقتصادي وده او کارموندنه
- د فقر لړوالي او ټولنیزه پیاوړتیا

**د افغانستان لپاره د تشخیصیه سیستم لومړیتونه**

- هر اړخیزه وده او د کارموندنې د آسانتیاو برابرول
- د لومړیتوب له مخې د خدماتو د وړاندې کولو پراختیا
- مالِ ثبات

| | | |
|---|---|---|
| پیاوړې او ځواب ورکوونو بنسټونه | 2. هر اړخیزه وده | 3. هراړخیزه او پیاوړې ټولنه |

جنسیت | حکومتولۍ | د چاپیریال بدلون | د بنسټونو پراختیا

# ۳

# د

# نړیوال بانک ګروپ په افغانستان کې



## د هیواد لپاره د مشارکت د چوکاټ لاندې د پروګرام فعالیتونه

د پروګرام فعالیتونه داسې پلان شوي چې په افغانستان کې د ترینګلي حالت د هڅونکو لاملونو لپاره ځواب ورکوونکي واوسي، او د هغوی عملي کیدنه په بنسټیزه توګه د اوږدمهالي ودې لامل وګرځي.

### د پیاوړو او ځواب ورکوونکو بنسټونو رامنځته کول

د پروګرام فعالیتونه داسې پلان شوي چې په مستقیمه بڼه د افغانستان د دولت لپاره، د دولت جوړونې هدف او مرام ته ځواب ووایي. دولت جوړونه او اعتماد جوړونه د دولت په اوږد مهاله اجندا کې ځای لري، چې د دغې موخې په رڼا کې د ترینګلتیا او جګړې د سرچینو او هڅونکو عواملو لپاره مهار کوونکي کړنې په پام کې دي ترڅو مخه یې ونیول سي.

دغه پروګرام د دولتي ادارو او د لګښتونو د مدیریت د بنوالي او د مالي ثبات په موخه د یو شمیر کړنلارو په عملي کولو ټینګار کوی، ترڅو د عادي بودیجې د ملاتړ لپاره آسانتیاوې رامنځته شي. ټاکل شوې چې دغه پروګرام د یو مسلکي ملکي خدمتونو سکتور، ځواکمنیو ښاروالی ګانو او د خلکو تر مشرۍ لاندې د یو شمیر تولنیزو جوړښتونو په رامنځته کولو کې خورا مهمه ونډه په غاړه واخلي، چې دولت ځواب ورکولو او مسوولیت منلو ته اړ کړي. په دغه پروګرام کې د وړاندیز شویو فعالیتونو لپاره ټولګه د دولت په ځواب ورکولو، کمزورې حکومتولی، پراخ فساد ، د خدماتو د وړاندې کولو لپاره د یو هراړخیز چوکاټ او د خصوصي سکتور په پیاوړو اجراآتو تمرکز لري.



## د هر اړخیزه ودې څخه ملاتړ

هراړخیزه وده چې ښځې، ځوانان، بې وځله وګړي، له شاته پاتې سیمو څخه بیخایه شوي او په غیر رسمي سیمو کې استوګن وګړي په بر کې نیسي، هر یو د فقر په دوام داره لړوالي کې مهمه ونډه په غاړه لري. په لنډ مهال کې اړتیا لیدل کیږي چې دولت په هغو زیربناو کې پانګه اچونه وکړي چې په هغو کې کاري ځواک ته بوختیا رامنځته کیږي او په دې توګه د خلکو لپاره د کار زمینه برابریږي.

د پروګرام فعالیتونه په مینځ مهال او اوږد مهال کې د خصوصي سکتور د پراختیا لپاره بنستیزه زمینه چمتو کوي، چې د مالي سکتور پیاوړي کونه، په پراخه اندازه قرضو ته د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو د متشبثینو لخوا لاسرسی، د کسب او کار په چاپیریال کې اصلاحات، ځمکې ته لاسرسی او د نویو مارکیټونو پراختیا بلل کیږی. همدا راز دغه پروګرام په هیواد کې دننه او بهر د سیمه ایزه ادغام او تړاو د پروسې په پیاوړتیا ، په تیره بیا د لویو لارو د پراختیا، د اړیکو او تکنالوژی د پراختیا، د انرژی مارکیټونه او سوداګری په برخو کې مهمه ونډه په غاړه اخلي.

> دولت جوړونه او اعتماد جوړونه د دولت په اوږد مهاله اجندا کې ځای لري، چې د دغې موخې په رڼا کې د ترینګلتیا او جګړې د سرچینو او هڅونکو عواملو لپاره مهار کوونکي کړنې په پام کې دي ترڅو مخه یې ونیول سي.

له افغانستان څخه ملاتړ په راتلونکو څلورو کلونو کې د همدغه ستراتيژيک چوکاټ په رڼا کې ترسره کيږي، چې په افغانستان کې له بدليدونکو شرايطو سره به انعطاف او همغږي لري او اړتياو ته به ځواب ورکوونکې وي.

د هيواد لپاره د مشارکت چوکاټ له يو بحراني حالت سره مخامخ دی، څرنګه چې اوسني دولت دا هوډ درلود چې خپل د واکمنۍ په لومړيو دوه کلونو کې يو شمير مهمو لاسته راوړنو ته لاسرسۍ پيدا کړی، خو له بده مرغه د نا امنۍ، اقتصادي رکود او د مخ په ودې فقر له امله، يو زيات شمير خنډونه او ستونزې په مخ ډپ دي.راتلونکې به د همدغه څلور کلن استراتيژيک چوکاټ پر بنسټ مشخصه کيږي، چې تر ډيره بريده به په افغانستان کې د بدلون وړ شرايطو لپاره انعطاف لرونکۍ او ځواب ورکوونکۍ وي.

## ستراتيژيکې موخې

د نړيوال بانک ګروپ تګلاره د مالي مرستو څخه متعادله ګټه پورته کونه، د پوهاوي لپاره مشورتي خدمات، په بيړنيو شرايطو کې د اړتياو وړ تخنيکي مرستو برابرول او په هغو بنسټيزو برخو کې پانګه اچونه چې په اوږد مهال کې د اقتصادي ودې لامل وګرځی، باندې تمرکز لري. دغه ستراتيژي يا تګلاره به له افغانستان سره په لاندې برخو کې مرسته وکړي:



**د يو لړ پياوړو او ځواب ورکوونکو بنسټونو** رامينځته کونه، ترڅو وتوانيږي د ښې حکومتولۍ له موخو او د دولت له ځواکمتيا څخه ملاتړ وکړی. په دې توګه تمه دا دې چې دولت وتوانيږي خلکو ته د لومړنيو خدماتو وړاندې کولو کې پياوړتيا پيدا کړي او د خصوصي سکتور لپاره يو سم چاپيريال رامينځته شي.

**له هراړخيزه ودې څخه ملاتړ**، چې محور يې په شاته پاتې سيمو او په غير پلان شويو سيمو کې د کليوالي کډوالو استوګنو باندې وي، او.

**د يوې هر اړخيزې ټولنې پياوړتيا**، چې موخه يې انساني پراختيا او په بې وځلو سيمو کې د زيان موندنې پيښو د ګراف ټيټول بلل کيږي، چې په عمومي توګه کورني بې ځايه شوي خلک او بيرته راستون شوي کډوال په بر کې نيسي.

د هيواد لپاره د مشارکت چوکاټ هڅه کوي ترڅو د يو داسې دولت جوړونې لپاره زمينه برابره شي چې ځواکمن، ځواب ورکوونکۍ او مسووليت منونکې وي او فساد سره مبارزه يې د کړنو په سرليک کې ځای ولري. د اقليمي ټکانونو د پيژندنې او د طبعي پيښو د تشخيص لپاره چې بې وځلي وګړي ترې زيانمن کيږي، د نړيوال بانک ستراتيژۍ د لومړي ځل لپاره يو لړ مشخصې کړنې په پام کې نيولي چې له مخې به يې د چاپيريال د بدلون په ترڅ کې د انرژۍ په سکتور د تمرکز له امله به د انرژۍ د تجديد کولو داسې سرچينې رامينځته شي چې له اقليمي بدلونونو سره د مقابلې ځواک ولري. همدا راز په پام کې ده چې د بيړني حالاتو د خبرتيا يو شمير سيستمونه نصب شي چې د طبعي پيښو لپاره ځواب ووايي.

د مشارکت دغه چوکاټ همدا راز د هغو ستونزو لپاره چې د ټولنيز او اقتصادي پياوړتيا خنډ ګرځي، يو شمير د حل لارې چارې وړانديز کوی، ترڅو په دې توګه د يوې متعادله ټولنې په رامينځته کولو کې مهمه ونډه په غاړه واخلي. په ورته مهال، ټاکل شوې چې د مشارکت دغه چوکات د جنسيتي او ټولنيزې پياوړتيا د پراختيا لپاره يوه داسې تګلاره له دولت سره د مرستې په موخه جوړه کړي، چه په ترڅ کې يې د جنسيتي برابروالي ارزښتونه په ټولنه کې پراختيا ومومي.

# پر جنسیت باندې د نړیوال بانک ګروپ د برنامو تمرکز

**د پیاوړو او ځواب ورکوونکو بنسټونو رامینځته کول**

د ظرفیت د لوړوالي پروژې له لوري ۳۰ سلنه ونډه د ملکي خدمتونو په دندو کې د ښځو د استخدام لپاره ځانګړې کړی. دا په داسې حال کې ده چې د ملي پیوستون پروژه د ټولنیزو شورا ګانو د پراختیا په ترکیب کې د ښځو په استازیتوب ټینګار کوی.

**له هراړخیزې وده ځخه ملاتړ**

د افغانسان د کلیوالي صنایعو د پراختیا برنامې د ۶۷۰۰۰ ګډون والو له نیمایې ځخه زیات شمیر یې ښځې دي. په کلیوالي سیمو کې د ښځو په هکله د یوې ارزونې په پایله کې ترلاسه شوي معلومات دا ځرګندوي چې، دغه پروژه د ښځو په ژوندانه باندې اغیز کړی او اړتیا لیدل کیږي چې یوه تعقیبي پروژه دیزاین او د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره د یوې آزمایښتي پروژې په اړه د میرمنو د هڅونې او د ګډو هلو ځلو د پراختیا لپاره کار پیل شي.

د بنوالې او مالدارۍ ملي پروژه څه باندې ۳۴۰۰۰ ښځو سره د شین خونو او د پروسس د مرکزونو په جوړښت کې مرسته کړې ده. ټاکل شوې چې د هیواد نورو سیمو ته د دغه پروګرام د پراختیا لپاره مالي مرستې زیاتې شي. همدا راز ټاکل شوې چې د نویو مارکیټونو پروژې په چوکاټ کې د ظرفیت لوړولو او د متشبثو میرمنو لپاره د روزنیزو پروګرامونو لپاره د مرستو لړۍ جاري وساتل شي. د اوبو لګونې پروژه ښځو ته د ټولنیزو اړیکو د پیاوړتیا په موخه یوه مرستندویه ونډه منلې ده، ترڅو هغوی وتوانیږي نورو کروندګرو میرمنو ته د اړتیا وړ خدماتو په وړاندې کولو کې په اغیزمنه بڼه، برخه واخلي، او د پروژې فرعي فعالیتونو کې خپله هڅونکې ونډه ترسره کړي.

همدا راز د نړیوالې مالي دارۍ د ملاتړ له امله د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د کوچنیو قرضو بانک لخوا شاوخوا ۶۰۰۰۰ وام اخیستونکو ته په بریالې توګه خدمات وړاندې شوي، چې دغه شمیر ځخه ۱۶ سلنه یې متشبثه میرمنې دي. له بلې خوا د نړیوالې مالي اداري د کاروبار پروګرام په ترڅ کې ۱۰۰۰۰ کسانو ته د زده کړې زمینه برابره شوه، چې له دغه شمیر ځخه ۴۳ سلنه یې میرمنې دي، چې د تعقیبي پړاو د ملاتړ ترلاسه کولو په ترڅ کې د دغې پروژې د خدماتو لمن نوره هم پراخیدلی شي.

**د پراخ ګډون لرونکې ټولنې پیاوړتیا**

د روغتیا او معارف په برخو کې د ښځو د لاسرسي پراختیا او د هغوی لپاره د اړتیاو په رڼا کې د دغو برخو د اړوند خدماتو همغږي او دوام لومړیتوب لري. په ورته مهال، هغه شمیر برنامې چې په پایله کې یې ښځو ته په معارف او روغتیا برخو کې آسانتیاوې برابریږي، زیاته پاملرنه کیږي. د تغذي یا خوراک په ځرنګوالي ډیر تمرکز په حقیقت کې ښځې او ماشومان تر مثبت اغیز لاندې راولي.

د ټولنیز خوندیتوب شبکې هم ښځو ته ځانګړې پاملرنه کوی. د بیړنیو پیښو ځخه د خبرتیا د سیستمونو ځای په ځای کول او له طبعي پیښو او آفتونو ځخه د مخنیوي لپاره د تدابیرو نیول هم ښځینه او نارینه جنسیتونه د خدماتو تر پوښښ لاندې راولي. د نړیوال بانک ګروپ تقریباً درې په ځلورمه برخه (۷۰ سلنه) پروژې په وزارتونو کې داسې مسوولین ګمارل شوي چې د هغوی تمرکز په جنسیتي اندول او په دغه برخه کې د اندولیزه استخدام په هڅونې او تفکیک باندې دی.



دغه پروګرام په تېره بيا د ودې له دوه هڅوونکو سکتورونو څخه ملاتړ کوي، چې لومړی يې د کرهنې سکتور ( چې د هيواد د نفوس نيمايي برخې ته معيشت برابروي) او دويم يې د استخراجي صنايعو سکتور بلل کيږی. په ورته مهال، استخراجي صنايع د کارموندنې د کچې په زياتوالي لړ اغيز لري او انډوليزه پراختيا يې بشپړ وخت ته اړتيا لري. د کرهنې پروګرامونه د ځمکو او اوبو د مديريت په بنه والي، اغيزمنې ګټه پورته کونې، د محصولات په ځنځيريزه ارزښت او په بې وځلو او کليوالي سيمو کې د کوچنيو تشبثاتو په پراختيا باندې اغيز لري.

د استخراجي صنايعو لپآره د ملاتړ څخه موخه او مرام دا دی ترڅو د حکومتولی بهير ښه والی ترلاسه کړي او د يوې څو اړخيزه او اوږد مهاله ودې لپاره په يو شمير مهمو سکتورونو او عوايدو کې زياتوالی رامينځته شي.

### د پراخ ګډون لرونکي ټولنې پياوړتيا

د پروګرام فعاليتونه د دولت هغو موخو ته په تفصيلي بڼه ځواب وايي، چې محور يې په ټولنه کې پر پياوړې ګډون تمرکز ولري. روغتيا او معياري ښوونې او روزنې ته لاسرسی په هر اړخيزه توګه جغرافيايي حالاتو، د خلکو استوګنځايونو او د کورنيو عوايدو پورې تړاو لري. پخواني لاسته راوړنې په دغه برخه کې ټکنې دي او له همدې امله دا خورا مهمه ده چې کيفيت لرونکو خدماتو ته د متوازنه لاسرسي په هکله اطمينان ترلاسه شي.

په ليرې پرتو او بې وځلو سيمو کې له خوارځواکی او خرابې تغذې سره د مقابلې په هدف پراخ شمير هلو ځلو او فعاليتونو ته اړتيا ليدل کيږی. له بلې خوا اړينه دي چې د طبعی ټکانونو څخه د مخنيوي او د ناوړه پيښو لپاره د چارو د غوره مديريت او د اړوند ادارو د ځواب ورکولو په موخه يو شمير تدابير په پام کې ونيول سي. په ورته وخت، بې وځله وګړو ته د ټولنيز امنيت د شبکو په رامينځته کولو سره په حقيقت کې په ټولنه کې له تر ټولو کمزورو او بی وځلو وګړو څخه ملاتړ ترسره کيږي ، په دې توګه د حکومت او خلکو ترمينځ د اعتماد جوړونې فضا، تقويه کيږي او وروستي پړاو کې دا احتمال شته چې جګړو او ناخوښيو لپاره د حل بنيادي لاره ترلاسه شي.

> هراړخيزه وده - چې ښځې، ځوانان، بې وځله وګړي، له شاته پآتې سيمو څخه بيځايه شوي او په غير رسمي سيمو کې استوګن وګړي په بر کې نيسي، هر يو د فقر په دوام داره لړوالي کې مهمه ونډه په غاړه لري.

دد ۴

# ستوزنمن چاپیریال



## مالي ژمني

نړيواله پراختيايي اداره او د افغانستان د بيا رغونې صندوق لخوا اوږد مهاله مالي ملاتړ د نړيوال بانک ګروپ له لياري د افغانستان لپاره چمتو کيږي. نړيواله پراختيايي اداره او د افغانستان د بيا رغونې صندوق هر يو په وار سره په کال کې ۲۰۰ ميليون امريکايي ډالره او ۹۰۰ ميليون امريکايي ډالره مالي ژمنتيا د افغانستان لپاره لري. داسې تمه کيږي چې افغانستان او يو شمير نورو جګړه ځپلو او ترينګلو هيوادونو لپاره د نړيوالې پراختيايي ادارې مرستې زياتې شي.

د نړيوال بانک لپاره د اوسنيو مالي سرچينو شتون دا زمينه برابروي چې ټولو هغو پراګرومونو ته چې د دغه بانک په ستراتيژۍ کې ځای لري، په تيره بيا معارف ، روغتيايي خدماتو، د ټولنيز خونديتوب د شبکو د پراختيا او ښاري پراختيا په برخو کې کړنو ته خورا زياته پاملرنه وشي.

د نړيوال بانک ګروپ د خصوصي سکتور د پرمختيا مټ په توګه د نړيوالې مالي ادارې موخه دا ده ترڅو د ۲۰۱۷ څخه تر ۲۰۲۰ کلونو په مهال په افغانستان کې خپلو د ژمنو سقف له ۵۴ ميليون امريکايي ډالرو څخه ۸۰ ميليون امريکايي ډالرو ته اوچت کړي. په همدې توګه د څو اړخيزو پانګه اچونو د ضمانت اداره د نړيوال بانک د سيائي ګواښونو د بيمه کوونکې بنسټ په توګه، دا چمتو والی لري ترڅو خپل ملاتړ په مالي، کرهنيزه سوداګرۍ، خدماتو او زيربناو سکتورونو کې زيات کړي.

### د هراړخيزه ودې هڅونه

د نړيوال بانک ګروپ اوسنۍ ستراتيژۍ دا تشخيص په ځای پربينې چې د امنيتي ګواښونو د زياتوالي او په ټولنه کې د فقر او طبقاتي نابرابروالي سره جوخت، بايد د هر اړخيزه ودې د هڅونې په موخه د هر وخت په پرتله ، اوس خورا اړينه ده چې د ښځو ، ځوانانو، د جګړه ځپلو سيمو څخه بې ځايه شويو او د ټولنې ۴۰ سلنه هغو وګړو ته چې بې وځله ژوند لري، د يوې بيړنۍ اجندا په سترګه وکتل سي. نور هغه پخوانۍ تګلاره " سوداګرۍ د معمول په څير" د خدماتو د عرضه کولو لپاره بسنه نکوي.



## لوی اقتصاد او مالي ثبات

که څه هم دولت هوډمن دی چې اصلاحات رامینځته شي، اما برسیره په دي د راتلونکو څلورو کلونو په ترڅ کې د یو چټک اقتصادي ودې او د عوایدو د لوړې کچې ترلاسه کولو لپاره، لرلید ښه نه بریښي. په امنیتي لګښتونو کې زیاتوالی او په ورته مهال په نړیوالو مرستو کې لږوالی، د دولت په بودیجې باندې د فشار د زیاتوالی لامل ګرځیدلی.

## د تطبیق او ثبات لپاره د د ادارو ظرفیتونه

بشري وړتیاوې کمزورې دي او دولت د استعدادونو د تیښتې څخه اندیښمن دی. په ملکي خدمتونو کې لږوالی او په دولتي ادارو کې د واحد مدیریت له مخې ادغام، یوه اوږد مهاله ستراتیژۍ کیدلی شي وبلل سي، خو کولی شي چې د لیږد یا انتقال لګښتونه په غاړه واخلي، ځکه چې د دولت کارکوونکي د چټکو تصمیم نیولو په چارو کې د اړوند تجربو څخه برخمن ندي.

## ټولنیز او محیطی ګواښونه

د نړیوال بانک ګروپ برنامه داسي طرحه شوي چې د هیواد د پراختیا په موخه د ګواښونو د مهار لپاره، د پیښو د بحران مدیریت او اقلیمي ټکانونو لپاره د یو سیستم له جوړښت څخه ملاتړ ترسره شي. خو په ورته مهال، اقلیمي بدلونونه په یو شمیر سکتورونو کیدلی شي اغیز ولري. دغه ګواښ د چټک ځواب ورکوونکي سیستم او د پیښو د جبران په موخه د سرچینو د بیا اختصاص ورکولو د آسانتیاو په برابرولو سره، ورڅخه مخنیوی کیدای سي.



"

په افغانستان کې حاکم سیاسي حالت له سترو ګواښونو سره مخامخ ده او په دغه ځیر چاپیریال کې ستونزمنه ده چې د لوړې کچې امنیتي ستونزو او ګواښونو باوجود، اړونده بنسټونه ژمن او فعال پاتې سي.

په افغانستان کې حاکم سیاسي حالت له سترو ګواښونو سره مخامخ ده او په دغه ځېر چاپیریال کې ستونزمنه ده چې د لوړې کچې امنیتي .ستونزو او ګواښونو باوجود، اړونده بنسټونه ژمن او فعال پاتې سي په افغانستان کې د لیږد پړاو ستونزمن او د بې ثباتی ښکارندوی وو.

د نړیوال بانک ګروپ د پروګرامونو په وړاندې تر ټولو ستر ګواښونه او ستونزې د ملي یووالي حکومت د واکمنی په مهال د امنیتی حالت خرابوالی او سیاسي بی ثباتي بلل کیږي. د دغو ګواښونو مدیریت چې دواړه یو بل سره نږدې تړاو هم لري، یوه آسانه پروسه نده، دا ځکه چې دواړه ګواښونه د نړیوال بانک ګروپ د صلاحیتونو له محور څخه باندې دي. په دغه شان حالاتو کې پکار دي چې د دغه حالت د ناوړه اغیزو د مهار لپآره، په پراختیایي برنامو کې پر استراتیژیکو برخو باندې ډیر تمرکز وسي، ترڅو په دې توګه د امنیتي ناخوالو او ناڅرګند سیاسي حالت له امله د شته ستونزو لپاره ، خلکو ته یوه معقوله ځواب ورکونه وړاندې شوې وي. دا تمه کیږي



چې دغه ستراتیژۍ او برنامه د یاد شویو ګواښونو د ناوړه اغیزو د مهار په موخه تطبیق سي.

د ۲۰۱۴ کال راپدیخوا، لاندې ۳ فکتورونو ته باید ځانګړې پاملرنه وسي:

- له افغانستان څخه د ۲۰۱۴ کال په وروستیو کې د زیات شمیر نړیوالو ځواکونو وتنه، د امنیتي حالت د کړکیچ لامل شو.
- د نړیوالو مرستو د کچې لږوالۍ، له یوې خوا په اقتصادي پراختیا اغیز کړئ او له بلې خوا یی د بیلابیلو ډلو ترمینځ د تاوتریخوالي او واټن لامل ګرځیدلئ دی.
- د ۲۰۱۴ کال د بې پایله ټاکنو او له دې امله ځنډ د دې لامل شو چې یو کمزوری مرکزي حکومت د ټاکنو د دوه مطرح نوماندانو د سیاسي تفاهم په رڼا کې رامینځته شي، چې دا حالت خپله د کورني اختلافونو د زیاتوالي ښکارندویي کوي.

په دغه شان یو چاپیریال کې داسي انګیرل کیږی چې په راتلونکو څلورو کلونو کې هم د نړیوال بانک ګروپ د برنامو موخې له ستر ګواښ سره مخامخ کیدلی سي.

## سیاست او حکومتولۍ

د سیاسي ثبات نشتون او کمزوری حکومتولی یو له هغو مهمو فکتورنو څخه بلل کیږي چې د ترینګلي حالت لامل ګرځي. د سیاسي بې ثباتی له امله ګواښونه هم د ملي یووالي حکومت په اړخ کې او هم په باندني اړخ کې په لوړه کچه موجود دي. که څه هم چې دولت د ،اصلاحاتو، د ښې حکومتولی او فساد سره د مقابلې لپاره ژمن دی خو په ورته مهال سیاسي وضعیت ناڅرګند دی.

## جګړه او تاوتریخوالئ

د جګړې لمن د هیواد په ډیرو سیمو کې خوره ده ، چې دغه حالت د پروژو تطبیق او د څارني بهیر له خنډ او بیلابیل شمیر ستونزو سره مخامخ کړی دی. د یو پروګرام په کچه یوه پروژه داسي پلان سي چې د حالاتو د چټک بدلون په صورت کې یو انعطاف منونکې شونتیا ولري. په همدې لړ کې د پروژو څخه د څارنې په موخه د دریم لوري لخوا د چارو د سرپرستي او ټولنې د وګړو لخوا د نظر ورکولو لپاره اړینې وړاندوینې ترسره سي، څرنګه چې وروستی موخه دا وي ترڅو د پروژې له خدماتو څخه ګټه پورته کوونکې خلکو ته چې د دولت کارکوونکي هلته په تللو ناتوان وي، آسانه لاسرسی پیدا سي.



۵

# د قوِي مشارکت په لوري

د افغانستان دولت د اصلاحاتو او پراختیا لپاره یوه هر اړخیزه اجندا په واک کې لري، خو په ورته مهال د ستونزمن چاپیریال له امله ستري ننګوني د دغې اجندا د تطبیق په وړاندې شتون لري. د نړیوال بانک ګروپ لخوا د هیواد لپآره د مشارکت چوکاټ د همدغو ننګونو په وړاندې جوړ شوی، ترڅو د ممکنه فشارونو او هغو فرصتونو لپاره چې شوني ده رامینځته شي، په اړین وخت کې ځواب ورکول سي.

د راتلونکو څلور کلونو په ترڅ کې د ناڅرګند حالت له کبله، د نړیوال بانک په وړاندې تر ټولو ستره ننګونه د په لنډ او اوږد مهال کې د اقتصادي ودې د ملاتړ لپاره د انډول رامینځته کول بلل کیږي. د امنیتي تاوتریخوالي له زیاتوالي سره ، یوازنی لاره چې کیدلي سي حصول کونه یی یی منطقي وي ، هغه د شته لاسته راوړنو ساتنه او د مخ په ودې فقر او بې وځلی په وړاندې مقابله وی.

له بلې خوا، په هیواد کې د ناڅرګند سیاسي حالت او جګړې په لړوالي، کیدلی سي چې د روان وضعیت سناریو بلکل بدلون ومومي او لرلید ښه شي. د ثبات په دغه ځیر سناریو کې که چیرې د اعتماد جوړوني په پروسه کې ښه والی رامینځته سي او د زیربناو او ټولنیزو خدماتو د پراختیا په موخه مالی سرچینې زیاتې شي، کیدلی سي چې د کارموندنې ګراف اوچت سي او د فقر لمن را ټوله سي. په دې توګه د دولت د بنسټونو د پراختیا او د هراړخیزه ودې لپاره فرصتونه زیاتیدلی شي.

د اوږد مهاله ثبات او بدلون په لوري لاره به د بې ثباتی له یو اوږد پړاو سره ملګرې وي، دې په پام سره دا مهم دی چې په دغه وخت کې د نړیوال بانک ګروپ د اوږد مهاله ملاتړ لپاره ژمن پاتې سي. په کورنې اړخ کې دا یوه یوه اړتیا بلل کیږی چې له ګواښونو سره په هر اړخیزه او اغیزمنه توګه مقابله ترسره شي، ځکه چې د پروژو د تطبیق او بشري ځواک له اړوند پروسیجرونو څخه د ډاډ ترلاسه کول او د ستونزو ژورتیا ته په کتلو هغو ته د سرچینو او امکاناتو برابرول، د موخو لپاره د غوره پایلو په ترلاسه کولو کې ستره ونډه لري.

دغه ټولګه د نړیوال بانک ګروپ ستراتیژۍ پورې اړوند، د هیواد لپاره د مشارکت چوکاټ د مندرجاتو لنډیز دی، چې له ۲۰۱۷ څخه تر ۲۰۲۰ کلونو لپاره جوړه شوې. دغه ستراتیژۍ په ځانګړې توګه په درې ستړو برخو متمرکزه ده، چې په هغه کې د پیاوړي او ځواب ورکوونکو بنسټونو په برخه کې د هڅو همغږي، له هراړخیزه ودې څخه ملاتړ او د پراخ ګډون لرونکې ټولنې پیاوړتیا، شاملې دي. د نړیوال بانک ګروپ ستراتیژۍ د افغانستان د ملي سولې او پراختیا ستراتیژۍ (۲۰۱۶ - ۲۰۲۱) له چوکاټ سره په نږدې اړیکه کې طرحه شوې، چې په هغه کې په پراختیایي چارو کې د دولت په پیاوړې مالکیت ، د دولت او تمویل کوونکو په انډولیزه مشارکت او په اختیاري بودجه کې د ډیرو مرستو په ځانګړي کولو ټینګار شوئ دی.

## ګروپ بانک جهانی


د نړیول بانک ګروپ
د افغانستان دفتر
۱۹ شمیر کور، ۱۵ واټ
وزیر محمد اکبر خان
کابل- افغانستان
تیلیفون: ۷۰۱۱۳۳۳۲۸ (۰) +۹۳
بریښنالیک :infoafghanistan@worldbank.org
ویب پاڼه :www.worldbank.org.af


© نړیوال بانک، ۲۰۱۶